UNAMA
دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان
دفتر ارتباطات استراتیژیک و سخنگوی، کابل، افغانستان
بیانیه ای مطبوعاتی
http://unama.unmissions.org

## ناوړه دودونه چې د ښځو حقوق نقض کوي په افغانستان کې خورا پراخه دي
## د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو د قانون ګړنده تطبیق ته اړتیا ده

د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر نهمه، کابل: - په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) په هغه رپورټ کې چې نن خپور شو وایي چې هغه ناوړه دودونه چې د نجونو او ښځو حقوق نقض کوي په افغانستان کې پراخه شتون لري او په مختلفو کچو په ټول هیواد کې او په ټولو ټولنو کې لیدل کیږي. په داسې حال کې د هغو قوانینو تطبیق چې دانجونو او ښځو د حقوقو ساتنه کوي، په خاصه توګه د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو قانون، ضروري دي چې د ناوړه دودونو ختمولو کې مرسته وکړي.

"په افغانستان کې ناوړه دودونه او د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو د قانون تطبیق" تر عنوان لاندې په ۵۶ مخونو کې د یوناما د بشري حقونو د څانګې رپورټ هغه دودیزې کړنې ثبتوي چې د ښځو حقوق نقض کوي چې د ماشومانو ودول، د شخړو د حل په موخه د نجونو ورکول، د بدل په توګه ودونه، اجباري تجرید یا ایسارول او د ناموس په نامه وژنې په کې شاملیږي، او هم د داسې ناوړه کړنو پر وړاندې د حکومت غبرګون او ځواب بیانوي او د دې دودونو د له منځه وړلو لپاره سپارښتنې وړاندې کوي. د یوناما د بشري حقونو څانګه دا رپورټ، چې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ د دفتر په همکارۍ جوړ شوی دی، د بشري حقونو نړیوالې ورځې د نمانځلوپه موخه چې د ډسمبر ۱۰ مه نیټه ده او د جنسیت پر اساس د تاو تریخوالي پر ضد د ۱۶ ورځنۍ کمپاین وروستۍ ورځ په مناسبت نن خپروي

د پراخه تحقیق یا څیړنه ، مباحثو او مرکو پر اساس چې نږدې د هیواد په ټولو ۳۴ ولایاتو کې د نارینه و او ښځو، حکومتي چارواکو، دیني مشرانو او ټولنو سره ترسره شوي دي، د یوناما د بشري حقونو څانګې دا وموندله چې داسې ناوړه دودونه په هیواد کې خورا پراخه دي، او په کلیوالي او ښاري ټولنو او د ټولو ملیتونو په منځ کې شتون لري. ناوړه دودونه چې بنسټ یې په افغاني ټولنه کې د ښځو د رول او موقف په هکله تبعیضي نظریې او عقاید دي، د ملیونونو افغانونجونو او ښځو د درد، زغم، شرم، او تجرید سبب ګرځي.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې رئیسه، میرمن جورجیټ ګنیان وایي: "تر هغې چې ښځې او انجونې د داسې کړنو سره مخ دي چې دوی ته زیان رسوي، تحقیروي یې، او د دوی بشري حقونه نقض کوي، په افغانستان کې د ښځو د حقوقو د تحقق په برخه کې به پرمختګ ډیر لږ او بې دوامه وي". "د ښځو د حقوقو تحقق – لکه په ټولنیز ژوند کې د ښځو برخه اخیستل، د سولې، پخلاینې او بیا پیوستون پروسې په شمول، او د تعلیم او کار مساوي فرصتونو ته لاسرسی – یوازې د کاغذ پر مخ او په اساسي قانون کې راغلي قانوني تحفظ ته اړتیا نه لري، بلکه د قوانینو چټک او کافي تطبیق ورته تر هغې لا هم مهم دی."

رپورټ دا هم وایي چې ناوړه دودونه د ښځو اونجونو د حقوقو په برخه کې د افغان حکومت د پاتې راتلو له کبله نور هم پیاوړي شوي، چې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو د قانون د بیړنی تطبیق ضرورت، چې زیاتې داسې کړنې جرم ګڼي، نور هم روښانه کوي. رپورټ یادوي چې ناوړه دودونه نه یوازې د افغانستان د قانون له مخې جرم ګڼل کیږي بلکه د شریعت قانون سره هم مطابقت نه لري. د مختلفو او ګڼ شمیر اسلامي حقوقي متخصصینو سره مشورو او بحثونو د یوناما د بشري حقونو د څانګې سره د شرعي قانون د اصولو د تحلیل په برخه کې مرسته کړې ده.

دیني مشران، د ټولنې مشران او د شخړو د حل دودیز میکانیزمونه د ناوړه دودونو په له منځه وړلو او جاري ساتلو دواړو کې مهم رول لوبوي. رپورټ څرګندوي چې ځینې دیني مشران او د ټولنې مشران داسې کړنې پیاوړې کوي. ډیرې افغان نارینه او ښځو چې مرکې ورسره شوي وي وویل چې د ناوړه دودونو د ختمولو ښه لار دا ده چې دیني مشرانو ته د ښځو د

حقوقو او د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی په برخه کی تعلیم او ټریننګونه ورکړل شی. دوی وویل چی د دینی مشرانو دروند او د احترام وړ غړ کولای شی چی ټولنو ته توصیه وکړی چی ګڼ شمیر هغه کړنی چی ښځو ته د زیان او تحقیر سبب ګرځی او ورسره تبعیضی چلند کوی، په زیاتو حالاتو کی د اسلامی قانون سره مطابقت نه کوی.

رپورټ وموندله چی په افغانستان کی زیاتره ودونه چی کیږی، اجباری وی ځکه چی د ښځو آزاده او آګاهانه خوښه په کی موجوده نه وی. دینی علماو او متخصصینو د یوناما بشری حقونو څانګی ته څرګنده کړه چی د اسلام له مخی واده یو دوه اړخیزه موافقه ده او دی لپاره چی اعتبار پیدا کړی باید د نارینه او ښځی دواړو خوښه په کی موجوده وی. د یوناما د بشری حقونو څانګی ولیدل چی په افغانستان کی د ماشومانو ودول عام رواج دی. له بلخ ولایت څخه ځینو ښځو د رواجونو په برخه کی د خلکو څخه داسی نقل کاوه چی "که یوه انجلی په خولی وولی او ونه لویږی نو واده ته برابره ده." خو سره له دی چی دا رواج ډیر عام دی، ټولو هغه نارینه او ښځو چی مرکی ورسره شوی وی د کم عمره نجونو ودول په افغانستان کی د یو ډیر زیان رسوونکی ناوړه دود په توګه وپیژندل.

د ماشومانو د ودولو منفی پایلی داسی ښودل شوی چی په دوامداره توګه د نجونو پر روغتیا، تعلیم او نورو ښیګنو ناوړه اثر غورځوی. افغانستان په نړۍ کی د زیږون له کبله د میندو د مړینی تر ټولو لوړه کچه لری او داسی مړینی زیاتره هغه ښځو کی واقع کیږی چی له ۱۶ کلنی څخه د مخه یی واده کړی وی. د ناوړه دودونو تر ټولو خواشینی کوونکی ناوړه پایله ځان سوزول دی چی ښځی ځان ته دی لپاره اور اچوی چی د خپلو ستونزو لپاره مرسته غواړی او یا هم غواړی چی له تاو تریخوالی څخه ځان خلاص کړی.

د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو قانون چی د ۲۰۰۹ کال په اګست میاشت کی نافذ کړای شو، د ښځو د حقوقو د قانونی تحفظ په برخه کی یو ستر قدم دی. که چیری دا قانون په بشپړه توګه تطبیق شوی وای، زیاتره ناوړه دودونه به یی تر ډیره حده له منځه وړی وای. دا قانون غواړی چی هغه دودونه، رسمونه، او کړنی چی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی سبب ګرځی او د اسلام سپیڅلی دین خلاف دی، له منځه یوسی. د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو قانون د واده په نامه د ښځو پلورل او پیرودل، او د شخړو د حل په موخه په بدو کی د نجونو ورکول جرم ګڼی او اجباری ودول، د ماشومانو ودول، په اجباری توګه تجریدول یا ایسارول، د یوی ښځی مجبورول چی ځان ته اور واچوی، او د ښځو د تعلیم، کار او روغتیایی خدمتونو ته د لاسرسی مخنیوی د سزا وړ ګڼی. دا قانون د حکومت اوو وزارتونو ته د اقداماتو لپاره وقایوی تدابیر توضیح کوی.

میرمن ګنیان وایی: "دا یو بیړنی ضرورت دی چی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو قانون په هکله پوهاوی زیات کړای شی او د دی قانون بشپړ تطبیق ډاډمن کړای شی." افغان پولیس او عدلی چارواکی دی لپاره چی پوه شی چی څنګه دا قانون په سمه توګه تطبیق کړی، په ملی کچه چارواکو له خوا لا زیاتی لارښونی، مرستی او څارنی ته ضرورت لری. "

د یوناما د بشری حقونو څانګی وموندل چی ځینی د قانون پلی کوونکی چارواکی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو قانون څخه خبر هم نه دی او نور زیات شمیر یی نه غواړی او یا نه شی کولای چی دغه قانون تطبیق کړی، چی په دی توګه د ناوړه دودونو دوام ته اجازه ورکوی. ډیری افغانانو چی مرکی ورسره شوی وویل چی پولیس او عدلی چارواکی اکثراً نه شی کولای چی هغه قوانین تطبیق کړی چی د ښځو د حقوقو ساتنه کوی او د دی پر ځای چی بیطرفانه اقدام وکړی، په عدلی قضایاو کی د ځانګړی طرزالعملونه اختیاروی. دوی اکثراً داسی قضیی تعقیبوی چی په هغی کی ادعا کیږی چی ښځو پر ټولنیزو نورمونه تیری کړی دی او کله چی ښځی دی ارګانونو ته د تاو تریخوالی یا د ماشومانو د ودولو په هکله رپورټ ورکوی، نو دوی وایی چی دا د خلکو "خصوصی معاملی" دی. دا وضعیت د ګڼ شمیر هغه ښځو له خوا بیان شوی چی په زندانونو کی د "د اخلاقی جرایمو" په نامه بندیانی دی. کله چی فرهنګی او ټولنیز شرایط ښځو ته د دی اجازه نه ورکوی چی د ناوړه دودونو پر وړاندی مخالفت وکړی، او یا له تاو تریخوالی څخه خلاصی شی، نو دوی کله کله له کور څخه تښتی. "له کور څخه تیښته" د افغانستان د قوانینو له مخی جرم نه دی. خو سره له دی هم د قانون پلی کوونکی چارواکی اکثراً هغه انجونی چی له کور څخه وتښتی ونیسی، تر عدلی تعقیب لاندی یی راولی او بندیانی یی کړی او اتهام ورباندی "د زنا قصد لرل" ولګوی.

د یوناما د بشری حقونو څانګه پر افغان حکومت، دینی مشرانو، ټولنو، مدنی ټولنې او نړیوالی مرستندویو غږ کوی چی د ناوړه دودونو د ختمولو او د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو قانون د تطبیق په موخه په بیړنی توګه ټول ممکنه قدمونه پورته کړی او سپارښتنه کوی:

- افغان حکومت، د جمهور رئیس په شمول، باید د سولی، بیا پخلاینی او بیا پیوستون د پروسی د یو لومړیتوب په توګه په ښکاره د ښځو د حقوقو څخه دفاع وکړی؛ او د د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو قانون د تطبیق په شمول، د افغانستان د ښځو لپاره د ملی کاری پلان تطبیق ګړندی کړی؛ او د یو عاجل اقدام په توګه دی د هغو نجونو او ښځو د خوشی کولو فرمان صادر کړی چی به زندانونو کی د "له کور څخه د تیښتی" په تور بندیانی دی،، چی د افغانستان د قوانینو له مخی جرم نه دی.

- ستره محکمه او لویه څارنوالی دی ټولو محاکمو او څارنوالیو ته هدایت ورکړی چی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو قانون څخه استفاده وکړی، او پولیس او څارنوالان دی لکه څنګه چی قانون حکم کوی، د هغه ناوړه دودونو په هکله چی د قانون له مخی جرم او د سزا وړ ګڼل شوی، ټول شکایتونه ثبت کړی، او لویه څارنوالی دی په بیړنی توګه داسی قضیی وپلټی او تعقیب دی یی کړی.

- د عدلیی وزارت، د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو د کمیسیون په مرسته، دی ټولو د قانون پلی کوونکو چارواکو ته د ماشومانو ودولو، اجباری ودونو او د شخړو د حل په موخه دنجونو ورکولو د واقعاتو تشخیص، تحقیق او عدلی تعقیب په برخه کی د ظرفیت د لوړولو لپاره روزنیز پروګرامونه تطبیق کړی.

- دینی مشران دی د حج او اوقافو او د ښځو چارو وزارتونو سره د ملایانو، امامانو او دینی ښوونکو لپاره د ښځو پر حقوقو او د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی په هکله روزنیز او د پوهاوی د لوړولو پروګرامونه جوړ او تطبیق کړی؛ او دینی مشران باید د ناوړه دودونو په هکله چی د اسلامی ښونو سره مطابقت نه لری خلکو ته خبری وکړی او د شریعت متخصصینو په منځ کی د ښځو د حقوقو په هکله آزاد بحثونه په لار واچوی.

- نړیوال مرستندویان دی د افغان حکومت او مدنی ټولنی د هغو ابتکارونو سره مرستی زیاتی کړی چی موخه یی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو قانون تطبیق او د افغانستان د ښځو لپاره د ملی کاری پلان تطبیق لپاره هڅی دی

**خبریالانو ته یادونه:**
نور مطبوعاتی معلوماتو دپاره ،هیله کوو چه لاندی کسانو سره تماس ونیسی :

نیلاب مبارز، ویانده (دری، پشتو اوانګلیسی)
د تماس شمیره: ۰۷۹۷۶۶۲۵۰۳
بریښنا لیک: mobarez@un.org

دان مکنارتن، ویاند ( انګلیسی)
د تماس شمیره:358 250 700 (0) 93 +
بریښنا لیک: mcnorton@un.org

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan
Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121
http://unama.unmissions.org

Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.